# د خوشحال خان خټک په شاعرۍ کښې د "سړي او سړيتوب" تصور

## Concept of Man and Manhood in the poetry of Khushal Khan Khatak

**Dr.Shakeel Ahmed**[*]
**Dr.Sajad Elahi**[**]

**Abstract:** The father of Pashto poetry, khushal Khan khatak took has birth in environments where only male folk of the society were center of all the powers, this is why khushal Khan's poetry always seem to reflect this very quality According to him, a person can quality to the position of man and manhood when he maintains the qualities of good writer, capability, strength, bravery, silks, and intelligence. He says bravery, courage, generosity etc are the qualities may also classify a person to be called as men and manhood the great khushal Khan khatak also emphasizes on defending pat, nang, and sharam in depending the status of man & manhood in fact khushal Khan khatak described Man and manhood in his writings on so many occasions is impossible to be encircled, however in this article the same be discussed and analyzed in his poetry in depth

**Keywords:Khattak,خوشحالSharam, Mard, سړيتوب**

په انساني ټولنه چې مونږه نظر اچوو نو دا نتيجه ترې اخذ کولے شو چې خانداني وړومبے نظام به خامخا مدرسري وۀ ـ ولې چې د نسل د بقا فطري عمل د سړي نه زيات په مور کښې مونډے شي او کوم وخت چې کورني ژوند وده نۀ وه موندلې هغه وخت به يو ماشوم د يوې موره پېدا کېدو خو ولې د پلار يا د پلرونو به ئې پته نۀ لګېده ـکه مونږه د افريقي قبايل نظر کښې وساتو يا ځنې نور په جزيرو او ځنګلونو، کښې ژوند کونکي نو په هغې کښې ښځه د ټولنې يو ازاد فرد ګرځېدلے دے ګويا انسان د ځنګل د قانون د دورو له يو لازم پړاو نه راتېر شوے ـ د يو فطري عمل دے چې د انساني ټولنه په هېر پېر کښې ورسره مخ شوې ده ـ

* Lecturer Department of Pashto University of Peshawar
** Lecturer Department of Pashto Islamia College University Peshawar

مونږه چې هم دا نظر د انساني ټولنې د پاره پکار راولو نو هم د دغه مور د فطري مینې له مخه دا وئیلي شو چې وړومبۍ ټولنې به د "مدرسري" نظام سره مخ وې۔ په دې حقله محمد سرور د مدرسري نظام متعلق لیکي چې :

"دنیا میں ایسے خاندان کے مثال بھی مل جاتے ہیں جہاں عورت کو خاندان کی سربراہ کی حیثیت بھی حاصل ہے۔"[1]

ترجمه : په دنیا کښې د داسې خاندان مثال هم په نظر راځي چرته چې ښځې ته د خاندان د واکمنۍ حېثیت ترلاسه دے۔

یو وخت داسې هم راغے چې په انسان کښې د ذاتي ملکیت تصور پېدا شو۔ دغې ذاتي ملکیت انسان کښې د حرص ماده دې ته چمتو کړه چې هغه دې پرې د نورو انسانانو نه غارونه ، غرونه ، ګډې بېزې، شینکي، د اوبوغاړې او نور وسائل زیات نه زیات ترلاسه کړي۔ خو چې کله دغه ترلاسه کېدل نو دا تصور به هم پېدا کېدو چې د چا سره دغه هر څۀ نشته هغه ځان ته مختاجه کول او ځان د هغۀ حاکم ګرځول ئې مراد وګرځېدو۔ په دغه ترڅ کښې د نورو نه وسایل تروړل او هغوي د ځان محکوم کول شروع شول۔ تر کومه حده چې د سړي تعلق دے نو سړے د وجود د ساخت (زور) له وجې په ټولنه کښې عموماً حاکم پاتې شوے دے۔ دغه حاکم کله د دیوتا په شکل کښې راځي او کله د بل یو قوت په شکل کښې لکه فرعوان ، هامان یا لکه د هندمغل باچاهانو ته به (ظل الهي وئېل کېدل۔

د دغه حاکمانه تصور د وجې عموماً د دنیا په هره ټولنه او هر مذهب کښې سړي (نر) ته د "غوره" کېدو اختیار حاصل شوے دے۔ لکه زمرے، مار، باز، شاهین غوندې اصطلاحات هم د نر سره تعلق ساتي۔ همدغسې په خپله "انسان" لفظ هر څو که مختلف جنسونه لري ولې دغه لفظ په خپله هم (مذکر) دے۔ اوس چې د غوره انسان د پاره کوم معیارونه ټاکل کېږي نو د هغې د پاره هم (سړیتوب) اصطلاح رائج ده او دغه اصطلاح زما په خیال اګر چې غلط العام رایج ده۔ ولې چې ښځې ته هم که څوک خبره کوي نو وائي ورته چې په تا کښې څۀ (سړیتوب ) نشته۔ د ښځه توب اصطلاح چرته هم نۀ ملاوېږي۔

زمونږه موضوع د خوشحال خان خټک د سړي تصور دے نو دا خبره اول پکار ده چې خوشحال په یوه داسې ټولنه کښې ژوند کړے وۀ چرته چې هر څۀ د نر یعنې سړي په

لاس کښې وو ښځه د کور ځېښتنه وه او سړے د دغې کور سره سره د ښځې. بله خبره د پښتونولۍ ده چې ښځه به پکښې په کور ناسته وي او سړي د ګټې وټې سره سره د دفاع کار هم ورکوي. دغه دفاع د ټولنې هم ده له دې وجې د خوشحال خټک په افکارو کښې هم د سړي تصور د ے. خو داسې هم نۀ ده چې خوشحال خان خټک به جېنډر ډسکرمنيشن کوي. ولې چې د ښځواکۍ تحريک جديد دور کښې رامخې ته شوے دے چې د روشن فکرۍ له مخه د ښځې غوښتنې د سړي سره يو شان غواړي. خوشحال خان خټک د دې باجود چې په دستارنامه او شاعرۍ کښې ښځې ته د پښتونولۍ تر مخه په ښۀ نظر کتلي دي. خو مونږه دلته بحث د خوشحال په سړي يا د مرد په تصور کوو کوم چې د هغوي د سړيتوب معيار ګرځولے دے.

هسې خو که مونږ د خوشحال خان خټک شاعري لولو نو د سړي يا د مرد ذکر پکښې تقريبا دوه سوه اويا ځله راغلے دے. چې په مختلفو حوالو خوشحال د سړي په تصور بحث کوي. ځينې ځاے کښې د جنس له رويه د سړي کلمه پکاروي، ځنې ځاے کښې ئې د خاصيتونو له وجې پکاروي او ځينې ځاے کښې د روزمرې ترمخه دغه سړے ياد شوے دے. لکه دا شعر چې:

"د جهان غمونه يو سر زما بل سر
که سړے ئې د باور په تله شمار کا"[2]

خلق په شېطان باندې لعنت لرينه
چارې په سړيو باندې نفس اماره کا"[3]

پورته شعرونو کښې (سړے يا سړي) د روزمرې سم ياد شوي دي چې د سړيتوب د معيار سره څۀ خاص تعلق نۀ لري.

د خوشحال خان خټک د "سړي" دغه تصور دومره خور وور دے چې احاطه کول ئې مشکل کار دے. خو بيا هم چې مونږه د خوشحال د "سړي" تصور پله ځو نو هغۀ په خپل کلام کښې "سړے او نۀ سړے" ټکي استعمالوي. د خوشحال خان خټک په نظر کښې سړے هغه دے چې همت ناک وي، برکت ناک وي، چالاک وي، شوم نۀ وي ، سخي وي ، تورزن وي او بهادر وي. که دغه صورته په سړي کښې نۀ وي نو هغه "نۀ سړے" تصور کېږي

یعنې د سړیتوب په معیار پوره نهٔ خېژي. په حقیقت کښې "نهٔ سړے/نامرد" هغه چا ته وئېل شي چې د هغهٔ جنسي مردانه قوت نهٔ وي یا کمزورے وي. ولې د پښتونولۍ له مخه او د خوشحال خان خټک له مخه "نهٔ سړے/نامرد" په اصطلاحي ډول د هغه چا د پاره پکارولے کېږي چې د پښتنولۍ په قدرونو پوره نهٔ وي. دلته دا خبره هم کول دي چې دا نامرد یا د نهٔ سړي اصطلاح د "دریم جنس" د پاره هم پکارولے کېږي لکه ما ورته اشاره وکړه. اوس که څوک د نامرد یا د نهٔ سړي اصطلاح د هغه چا د پاره پکاره وي چې ننګ نهٔ لري، په کمزوري لاس وچتوي، د ښځو سره ناروا ظلم کوي او په بدل کښې ورته مونږه "نامرد" وایو نو دا به هم یو قسم "جېنډر ډسکرمنیشن" وي یعنې د دریم جنس توهین یا سپکاوے به وي. لکه زمونږه په ټولنه کښې مونږه په کچه کار اکثر وایو "تهٔ څهٔ نهٔ سړے ئې" یا اکثر ښځې د غصې یا د جنګ په حالت کښې خپل سړي ته د "نامرد" پېغور ورکوي.

خو ددې په شا چې مونږه کوم د سړیتوب معیار وینو او هغې ته چې مونږه د خوشحال په نظر کښې ګورو نو د پښتونولۍ ستره نمائندګي هم کوي. هغه هم داسې چې سړے هغه سړے نهٔ دے چې د وجود له رویه یا د جنسي فعل د مخه پوره وي. بلکې د پښتو ټپه ده چې:

"سړے په رنګ نهٔ سړے کېږي
سړے هغه دے چې ئې خوئي د سړو وینه"[4]

په دې تاثر کښې خوشحال هم سړي ته نظر لري. لکه چې وائي:

که په زر رنګه خوبیه اراسته وي
چې زلمي په بلا بر نهٔ وي هم هیڅ[5]

مرد هغه چې زړهٔ ئې وینښ سترګې په خوب
په خپل سپي ئې شي ګمان د لېونتوب"[6]

هم دغسې د مرد کلمه هم د سړي سره سمه تکرار شوې ده چې د خوشحال تصور ترینه په ډاګه دے. دغې تصور کښې د خوشحال مرد یو مړانه کونکے انسان دے چې په ټولنه کښې ژوند کوي. د ګفتار سره سره به په کردار هم پاک وي. لکه چې وائي:

"مرد به نۀ شي په ګفتار
څو پېدا نۀ کړي کردار
چې څۀ دي خو انتقام دے
د مردانو کار و بار
عفوه هورته ځاے لرينه
چې نۀ غېب وي نۀ ئې عار
چې عزت ورڅخه نۀ وي
هغه مرد نۀ دے پکار

مرد به غم کا د خپل شرم
د عزت د اعتبار
مرد به غم د خپل هنر کا
نۀ له زر نۀ د دينار"[7]

د پښتنو جغرافيه په يوه داسې لاره کښې پرته ده چرته چې ټول عمر يرغل ګر راغلي دي او پښتنو دغه خلقو سره تُورې وهلي دي دا قام د خپل معلوم تاريخ نه تر ننه د جنګ په حالت کښې دے. بل خوا خوشحال خان پېدا شوے او لوے شوے هم په داسې کور کښې وۀ چې د ازل نه ئې د تُورې کار په غاړه وۀ له دې وجې ئې په دا بشپړ تصور کښې د تُورې د وهلو تصور پروت دے. تُوره د تشدد علامت دے خو د خوشحال په نظر کښې ځان ساتنه او د دښمن نه خپل ځان ازادول هم مهم دي. ځکه هغه چې د خپل تصور ذکر کوي نو بار بار د تُورې او د مېړ ذکر کوي لکه:

"څو وانخلي له غليمه انتقام
مرد نۀ خوب کا نۀ خوراک کا نۀ ارام"[8]

"چې څۀ دي خو انتقام دے
د مردانو كارو بار"[9]

د خوشحال خان خټک د "بشپړه سړي تصور" کښې دغه سړے داسې نۀ دے پېدا شوے چې جينيس وي يا لکه د خاص بنديانو څوک چې د خدا ے له خوا راستولے شوے وي. دغه سړے هر څوک کېدے شي خو شرط به ئې دا وي چې د خوشحال خان خټک کوم ټاکل شوے معيار دے چې په هغې پوره وي. دغه معيار که يو خوا د پښتونولۍ ستر قدرونه دي نو بل خوا هغه هنرونه او خصلتونه دي کوم چې په دستار نامه کښې خوشحال خان خټک ورکړي دي. د دغې هر څۀ باوجود خوشحال خان خټک په هنر زور راوړي او د علم د زده کړې اهميت ورکوي. خوشحال هنر ته په بادشاهۍ فوقيت ورکوي. بيا که مونږه وګورو نو د پښتنو سره دغه د هنر کالے په نشت حساب دے. دغه هنر که د يو عام سړي سره هم نۀ وي دا د جهل بلا ګڼل پکار دي.

"چې ئې علم هنر نۀ وي ځنې تښته
بې هنر سړي له وګوره لا شے دے"[10]

د پښتنو په ځينې کليوال يا قبيلوي ژوند کښې اکثر مشرتابه هغه څوک وو چې مال دولت ورسره ډېر وي. لنډه دا چې د انګرېز په دور کښې او بيا د هند د تقسيم نه پس دغه صورت حال نور هم ډېر شو. ولې چې د انګرېز خان بهادران، نوابان، ملکان او ځينې خانان چې منصب ورته ورکړے شو هغوي ته مشري ورکړل شوه کوم چې د فيوډل نظام شکل دے. خو نن په جديد دور کښې هم هغه خلق د زوال سره مخ کېږي ولې چې خانۍ او ملکۍ پاتې نۀ شوې د کلو او د قبيلو مشري به هغه څوک کوي چې د تعليم او هنر خاوندان وي. په قران مجيد کښې هم خدا ے پاک وائي چې:

"هَلۡ يَسۡتَوِى الَّذِيۡنَ يَعۡلَمُوۡنَ وَ الَّذِيۡنَ لَا يَعۡلَمُوۡنَ"[11]

(ايا برابر دي هغه کسان چې علم لري او هغه کسان چې علم نۀ لري)

خوشحال خان خټک هم هنر ته تر هر څۀ زيات اهميت ورکوي د کوم چې پوخ دليل د دستارنامې شل هنرونه دي. خو په کلياتو کښې د خوشحال خان خټک د سړي په تصور کښې يو شمېر شعرونه داسې دي چې د هنر سره منسلک دي. هنر د سړي د پاره د ساه اخستلو په معنی دے لکه د جديد دور شاعر شاه سعود سعود وائي چې:

"سترګې چې پټې کړم رڼا اخلم
زۀ په لاسونو باندې ساه اخلم"[12]

په دا حواله استاد بېنوا صېب لیکي چې:

"خوشحال خان هغه څوک چې علم او فضل نۀ لري که څۀ هم د باچا په تخت ناست وي یو ځناور او حېوان بولي او د انسانانو د ډلې څخه ئې نۀ شمېري۔"[13]

بېنوا صاحب چې د خوشحال خټک کوم شعر راخستے هغې څخه به هم استفاده کوو خو چې دلته د هنر په حواله د خوشحال خان خټک ځینې شعرونو نه استفاده کوواو بغېر د څۀ اوږد بحث یا سپنیاوي به ئې رانقل کوو۔

" چې ئې علم فضل نۀ وي چې په تخت د پاسه کښېني
یا یو ایږ دے یا لېوۀ دے یا ئې ګاو خر وشماره"[14]

"هنر چې نۀ لري که دې پسر دے
سړے ئې مه بوله یو ګاو خر دے
که هر څو زور لري که هر څو زر لري
تر دا همه واړه بهتر هنر دے"[15]

"که په اصل څوک سید یا شهزاده وي
چې هنر ورڅخه نۀ وي مه ئې ستایه"[16]

مرد به غم د خپل هنر کا
نۀ د زر نۀ د دینار"[17]

"په زمان کښې به خپل ځان د هر چا ښۀ کا
د سړي که لاس رسېږي په قدر
دانشمند په خوارۍ خوار جاهل کامران دے
د سړي طالع پکار دے نۀ هنر

هنرمند سړے په هر ديار عزيز وي
په هر ځاے قدر قيمت لري سرۀ زر"[18]

د خوشحال خټک د سړي او سړيتوب " معيار هغه دے چې د خپل قلم ، خپل مټ، خپلې تُورې ، خپل هنر، خپل همت، خپل دانش، خپل شجاعت او مړانې په زور خپل ځان د "بشپړتوب" مقام ته رسوي. په دا حواله خوشحال خان خټک فکر کوي چې انسان له د بل په اوږو پورته ختل مناسب نۀ دي. نۀ دا چې په يو چا کښې خپل صلاحيت نۀ وي او هغه د خپل پلار نيکه په مړانو باندې خپل نوم کوي او ځان په خلقو منل غواړي. په دغه تناظر کښې که مونږه د جديد دور سوشلسټ جوړ رياستونه وګورو نو هغوي هم دغه بيانيه مخ په وړاندې بوځي. چې څوک څومره کار کولے شي او څوک څومره دے هغه هومره به ئې اولس مني. دغلته د نيو نېشنلزم بيانيې ته هم تقويت ورکول شي خو د خوشحال شعر په غېر شعوري ډول د دغه نظام په نمائيندګۍ کښې مونږه ګڼلے شو. چې ووائي:

"نامرد فخر په نسب کا
مرد نۀ مور لري نۀ پلار"[19]

نۀ مور لرل او نۀ پلار هم هغه خبره ده چې سړے دې خپل ځان په خپله په عالم کښې اشنا کړي نۀ چې د بل چا په سبب. نو په دې حواله رحمان بابا او کاظم خان شېدا هم څۀ قدرې وئيل کړي دي لکه رحمان بابا وائي:

"کومه ناوې چې په خپله ښائسته نۀ وي
څوک ئې څۀ کاندي ښائست د مور او نيا"[20]

او شېدا وائي:

"د افتاب په کمند نۀ خېژم اسمان ته
نۀ ړدم بار لکه شبنم په دوش د ګلو"[21]

د سړي د بشپړتيا د پاره خوشحال خان خټک د هغۀ شرم ننګ او پت د هغه سره لازمي ګرځولي دي کړه فرض که دغه نۀ وي نو بيا:

"جهان شرم نام او ننګ دے
که دا نۀ وي جهان رنګ دے"[22]

دغه شرم نام او ننګ د انسان په جبلتونو کښې مېشته احساس دے چې د ښۀ او بد يعنې د Good او Bad ترمينځه په يو نۀ يو موقع توپير کوي. دے که په هر عمل کښې اموخته وي دغه شرم د دۀ د ضمير اواز دے. چې دے به ملامته کوي. دلته خبره په دوه ډوله کېږي يو هغه شرم دے چې انسان د ځان سره په ماحول کښې راخستے دے يعنې د دۀ په خارجي عواملو کښې شامل دے. دغه شرم د کلتور، مذهب او ټولنيز قوانينو له مخه په وجود کښې راځي. دا داسې هم کېدے شي چې يو عمل د دۀ د پاره په ټولنه کښې شرم وګرځي خو ولې بله ټولنه داسې وي چې هلته دغه عمل د شرم علامت نۀ وي. خو خوشحال خټک چې کوم شرم يادوي هغه د هر سړي په داخل کښې دننه د ښۀ او بد تميز دے چې د دۀ ضمير پرې مطمئن او ملامته وي. که چرې دغه دننه د Good او Bad تصور ختم شي نو جهان رنګ ګرځېدلے شي.

لکه د انګرېزۍ مقوله چې "بيلي ګرام" Billy Graham راخستې ده:

"When wealth is lost nothing is lost
When health is lost something is lost
When character is lost All is lost"[23]

ژباړه:

که دولت دې له لاسه لاړو هيڅ خبره نۀ ده
که روغتيا دې له لاسو لاړه څۀ نا څۀ دې لاړل
که شخصيت دې له لاسه لاړو هر څۀ دې لاړل

دغه شخصيت د انسان خپل ضمير دے، دننه هغه خواهشات دي او د خواصو استعمال دے چې دے ئې د ټولنې په کار هم راولي او خپله بقا پرې هم ساتي. د دۀ هر عمل د دۀ په لاس کښې دے. تر څو چې دۀ نۀ وي غوښتلي دۀ ته نۀ ښۀ ترلاسه کېدے شي او نۀ بد. دغه

بد او ښهٔ د دهٔ د ارادې پېداوار دے او اراده د دهٔ په داخل کښې هغه خواهشات دي چې په دهٔ اړه لري چې دے ئې په کوم ډول سر ته رسوي.
د پښتونولۍ په قدرونو کښې "پت" هم دغه قدر دے چې انسان پرې خپل ضمير د "ښهٔ" په حواله مطمين ساتي. دغه پت شرم هم دے دغه پت د دهٔ اراده هم ده. دغه پت د دهٔ پښتو هم ده او دغه پت د دهٔ دننه ايمان هم دے. که چرې دغه پت د دهٔ له لاسه لاړو نو دے هيڅ هم نهٔ دے بلکې خپله معنٰی ئې وبائېله. لکه خوشحال خان خټک وائي چې:

"دا يوه وېنا د زړهٔ په غوږو واوره
چې بهتره د اورنګ تر سلطنت ده
سر دې درومي مال دې درومي پت دې نهٔ ځي
د سړي د چارې کُل خوبي په پت ده"[24]

پورته مونږه د مرد او نامرد اصطلاح باندې خبره کړې وه. د خوشحال په مرد او نا مرد کښې فرق ځرګند دے او هغه دغه دے چې مرد به خپل داخلي قوت باندې لاس برے لري. دے به د شرم په معامله کښې محتاط وي.

"د نامرد او مرد په دا تفاوت وشو
په نامرد شرم اسان دے په مرد ګران دے"[25]

خوشحال خان خټک د "سړي او سړيتوب" د پاره هنر او کار کسب هم لازمي ګڼي. د دې غټه وجه د هغهٔ په نفسياتو کښې هغه پلرنۍ نوکري وه چې د مغلو ئې کړې وه خو بې د غلامۍ ترې هېڅ په لاس نهٔ وو ورغلي. لکه وائي چې:

"ما وې زهٔ به د مغل په نوکرۍ کښې
رکابونه کړم د سرو او سپينو نال"[26]

خو د دغې سرو او سپنيو رکابونو په ځاے خوشحال خټک جېل ته واچولے شو. خوشحال دغه هر څهٔ د ځان د پاره محسوس نهٔ کړل بلکې ټول قام ته وائي چې خپل کار کسب انسان شتهٔ کوي ځکه چې سړے پکښې د چا د حکم پابند نهٔ وي. نن که مونږه د جديد سرمائې دنيا ګورو او د پښتنو پسماندګي وينو د هغې لويه وجه د پښتنو خپل اقتصادي

نظام کښې کارکسب نشته ـ د ګنډلو د ستن نه واخله په بجلۍ د هر چلېدونکي لوې او وړوکي څيز پورې مونږه خپل هېڅ پروډکشن نۀ لرو ـ د پښتنو په اوږده تاريخي دوره کښې يو خوشحال خان خټک دے او بل باچاخان دے چې د اقتصادي خپلواکۍ درس ئې پښتنو ته بار بار ورکړے دے ـ لکه باچاخان هر هغه هنر او کار کسب په عملي ډول کوو کوم چې په ټولنه کښې زمونږه "کسب ګر" کوي او عموماً پښتانۀ دغه کار ته سپک ګوري ـ تر دې چې مېچن او د الاجي، نه علاوه به ئې په خپلو جلسو کښې مشري د ډول خاوند ته ورکوله چې خلق د دۀ په هنر د طنز په ځاے ونازېږي ـ

هم دغسې خوشحال خان خټک هم وائي چې خپله دنده د خپلواکۍ غوره طريقه ده چې سړے وي او سړيتوب ولري نو هغه به د چا بنده نۀ وي ـ لکه دغه رباعي:

"چې نوکري که ځوک ډېر ګنده که
سړے ازاد وي خپل ځان بنده که
تر ازادۍ نه بهتر هېڅ نشته
چې ځوک په کور کښې خپله دنده که"[27]

ځان پېژندنه د هر فرد د پاره يو مهم توکے دے ـ د دغې پېژندنې په زور د ټولنې پرمختګ ممکن دے ـ ټولنه هله مخ په وړاندې ځي چې هر سړے ئې خپل صلاحيت او خپله ذمه واري ترسره کړي ـ خوشحال خان خټک خو وائي چې "هر سړے پېدا دے خپل خپل کار لره کنه" دغه خپل خپل کار د انسان خپله ذمه واري ده چې په دۀ کښې پرته ده خو دۀ له ځان پېژندل ډېر ضروري دي ـ دغه ځان پېژندنه د دۀ د داخل د پاره ډېره مهم ده چې د دې په وجه د دۀ خارجي نظام ته تقويت ورکوي ـ خوشحال خان خټک هم د خپل سړي د پاره ځان پېژندنه ډېره مهمه ګڼي لکه قاسم مظهر په دې حواله وائي:

"سړے هغه دے چې اول د خپل ځان نه خبردار وي چې هر کله دے دۀ خپل ځان نه خبردار شي نو ايله بيا د دغه صفاتو اهل ګرځېدے شي لکه چې وائي :

"سر تر پايه چې سړے ساز دے
که فهم وکړې درست سره راز دے
سړے هغه ګڼه چې خپل ځان پېژني

چې بې خبره وي يو تش طراز دے"[28]

د پورته شعرونو او بحث په رڼا کښې دا خبره په ډاګه کېږي چې خوشحال خان خټک د ائيډيل کردار په معامله کښې د "سړي او سړيتوب" تصور ورکوي. هر څو که د سړي په معامله کښې دا وخت د خوشحال خان خټک په کلياتو کښې د دوه نيمو سوو نه زيات شعرونه دي خو مونږ دلته د هغه شعرونو په رڼا کښې خپل بحث وړاندې کړو د کومو نه چې د خوشحال سړي او سړيتوب (مرد) تصور او د هغۀ معيار مخې ته راځي.

# حوالې

1: محمد سرور، پروفیسر، کتاب شہریت، علمی کتاب خانہ اردو بازار لاہور، 1982ء، ص44
2: خټک، خوشحال خان، د خوشحال خان خټک کلیات ،ترتیب ، تدوین، سریزه او ویپپانګه سر محقق دکتور سېد محي الدين ص 10
3: هم دغه اثر، ص 14
4: داود، داور خان، پښتو ټپه ، کتاب کور پېښور، ۲۰۲۰، ص ۲۴
5: هم دغه اثر، ص 35
6: هم دغه اثر ، ص 29
7: هم دغه اثر، ص 55
8: هم دغه اثر، ص 676
9: هم دغه اثر، ص 55
10: هم دغه اثر، ص268
11: القرآن، سوره الزمر،ایت 9
12: شاه سعود ، سېد ، بنۀ ده چې تۀ رانه خبر نۀ شولې، دانش خپرندویه ټولنه کابل،2013ء، ص214
13: بېنوا ، عبدالروف، خوشحال خټک څۀ وائي،صحاف نشراتي موسسه قندهار،2010ء ص 86
14: خټک، خوشحال خان، د خوشحال خټک کلیات، ص55
15: هم دغه اثر، ص 519
16: هم دغه اثر، ص 250
17: هم دغه اثر، ص 55.
18: هم دغه اثر ص57
19: هم دغه اثر، ص 55
20: مومند ، عبدالرحمان، د رحمان بابا دیوان۔ ،مصحح مدوین او مقابله کونکے عبدالروف بېنوا ، 1947، مخ 84
21: شېدا ، کاظم خان، د کاظم خان شېدا دیوان ، مقدمه ډاکټر حنيف خليل، دانش خپرندویه کابل ، 2015،مخ 154
22: خټک، خوشحال خان،د خوشحال خټک کلیات، ص 257

23: https:\\www.brainyquote.com.
24: خټک، خوشحال خان، خوشحال خان خټک کليات ،ص224
25: هم دغه اثر، ص260
26هم دغه اثر، ص 674
27: رسا، سيد الرسول، ارمغان خوشحال ، مقدمه، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، 2001ء، ص 11
28: مظهر، محمد قاسم، مياشتنۍ پښتو خوشحال نمبر،د خوشحال ننګيالے، شماره ۱۴ پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي،جون 1980ء، مخ 206

**References in Roman**


1. Muhammad Sarwar, Professor, Kitab Shuhreyat, Ilme Kutab Khana, Urdo bazar Lahore, 1982, p44
2. Khattak Khushal Khan, Da Khushal Khan Khattak kulyat, Eddied Dr Sayed Muhiddun Hashami, p10
3. Same page 14
4. Dawod, Dawar khan, Pashto Tapa, Kitab kor, 2020, p 34
5. Khattak Khushal Khan, Da Khushal Khan Khattak kulyat, Eddied Dr Sayed Muhiddun Hashami, 46
6. Same page 35
7. Same page29
8. Same Page 55
9. Same Page 676
10. Same Page 55
11. Same Page 268
12. Alquran, Sora alzamr, v 9
13. Shah Saud, Sayed, Kha da che ta rana Khabar na shwaly, Danish Khparwandoya Kabul, 2013, p214
14. Benawa, abdul Rauf, Khushal Khattak Sa waye, Sahaf Qandahar, 2010, p86
15. Khattak Khushal Khan, Da Khushal Khan Khattak kulyat, Eddied Dr Sayed Muhiddun Hashami, p55
16. Same page 519
17. Same page 250
18. Same page 55
19. Same page 57
20. Same page 55
21. Muhmand Abdur Rahman, Da Rahman Baba dewan, Muqadima , Abdur Rauf Benawa, Danish Khparwandoya Tolana Kabul,1948, p84
22. Sheda Kazim Khan Sheda, Da kazim khan sheda Deawan ,Muqadima Dr. Hanif Khalil, Danish Khparwandoya Tolana Kabul, 2015, p154

23. Khattak Khushal Khan, Da Khushal Khan Khattak kulyat, Eddied Dr Sayed Muhiddun Hashami, p257
24. Http/www.brainquote,com
25. Khattak Khushal Khan, Da Khushal Khan Khattak kulyat, Eddied Dr Sayed Muhiddun Hashami, p224
26. Same Page 260
27. Same Page 674
28. Rasa, Sed Rasool, Armaghan Khushal, University Book Agncey, 2001, p11